# ليکه، په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، چې له حق پرته ترې بل څه نه راوځي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: ما به هر هغه څه ليکل چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه به مې اورېدل، او غوښتل مې چې حفظ يې کړم، خو قريشو لدې کار څخه منع کړم او ويې ويیل: آيا ته هر هغه څه ليکې چې ته يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورې، پداسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم انسان دی، کله د غصې او خوښ په حالت کې خبرې کوي؟ نو ما ليکنه خپلې ګوتې سره خپلې‌بنده کړه او پدې اړه مې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يادونه وکړه، نو هغه په خولې ته اشاره وکړه او ويې ويل: «اکتُبْ، فوالذي نفسي بيدِه، ما يَخرُجُ منه إلا حقٌّ». «ليکه، په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، چې له حق پرته ترې بل څه نه راوځي».

[صحيح] [ابوداود روايت کړی دی]

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما وايي: ما به هر هغه څه ليکل چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اورېدل، تر څو يې له يادو زده کړم، خو د قريشو ځينو سړيو زه منع کړم. او ويې ويیل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم انسان دی؛ د خوښ او غصې په حالت کې خبرې کوي او کله خطا کيږي هم، نو ما ليکل بند کړل. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مې د دوی له وينا څخه خبر کړ، هغه خپلې خولې ته په خپلې ګوتې سره اشاره وکړه او ويې ويیل چې: ليکه: په هغه ذات قسم چې زما روح د هغه په لاس کې دی، چې په هر حالت کې ترې له حق‌وکړه او ويې ويیل چې: ليکه: په هغه ذات قسم چې زما روح د هغه په لاس کې دی، چې په هر حالت کې ترې له حق پرته بل څه نه راوځي؛ د خوښ او غصې دواړو حالتونو کې. په داسې حال کې چې الله تعالی د خپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم په اړه فرمايلي دي: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ * إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ﴾ [النجم ٣-٤]. (او دی له خپل (خواهش نه خبرې نه کوي. ندی دا (قرآن) مګر وحې چې (ده ته) وحې کېږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65077

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee